مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۱۹

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسلاو پنځه لسمه برخه)

# محمد ظاهر شاه

له ۱۹۳۳ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د افغانستان پادشاه. محمد زی دئ. د اعلیحضرت محمد نادر شاه یوازینی ژوندی پاتې سوی زوی. د ۱۹۱۴ز کال د اکتوبر د میاشتې په ۱۵ نېټې ﴿ کابل په دِهٔ افغانانو کې په غوج کلي / قريـهٔ غوچک چې وروسته قريـهٔ چقورک سو- ﴾ زېږېدلی دئ. په ۱۹۲۰ز کال کې د حبيبيې ښوونځي او په ۱۹۲۲ز کال کې د استقلال ښوونځي ته تللی دئ. په ۱۹۲۴ز کال کې له خپل پلار سره فرانسې ته په سفر لاړ او هلته په ﴿ليسې جانسن دي سيلي، ليسې پاستور﴾ [1] او نورو کې ئـې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ. د ۱۹۳۰ز کال د اکتوبر په مياشت کې بېرته افغانستان ته راستون سو. په ۱۹۳۱ز کال کې ئـې په کابل کې د پلي ځواک د افسرانو د ښوونځي په يو کلن کورس کې ګډون وکړ. په ۱۹۳۱ز کال کې ئـې د دربار د وزير احمد شاه له لور حميرا سره واده وکړ، په ۱۹۳۲ز کال کې د جنګ د وزير اسيستانت/ ياور وګومارل سو. د ۱۹۳۳ز کال د سپټمبر په مياشتې کې د نورو دندو تر څنګ د معارف د وزير په توګه مقرر سو. د ۱۹۳۳ز کال د نوامبر د مياشتې په اتمې نېټې ئـې د خپل پلار له وژل کېدلو څو ساعته وروسته سلطنت اعلان کړ. هر کال د اکتوبر په ۱۵ نېټې د زوکړې ورځ ئـې لمانځل کېدله. د ﴿المتوکل على الله﴾ [2] لقب ئـې غوره کړی وو؛ همدا شان د ﴿پيرو ِ دين مبين اسلام﴾ [3] لقب ئـې کاراوۀ. ددغو القابو تر څنګ ئـې د ﴿بندۀ خدا﴾ [4] لقب هم ورزيات سوی وو. په ۱۹۵۹ز کال کې ئـې ښځو ته اجازه ورکړه چې چادرې رفع کړي. په ۱۹۶۴ز کال کې ئـې نوی اساسي قانون ئـې اعلان کې چې پر بنسټ ئـې د سلطنتي کورنی غړي ئـې د دولتي مقاماتو له اخيستلو څخه منع ګرځول. په پرله پسې ډول به ئـې له افغانستانه دباندې سفرونه کول او هم به ئـې په هېواد کې دننه سفرونه کول. کله چې په ۱۹۷۳ز کال کې په ايټاليا کې وو، د اکا زوی ئـې محمد داؤود کودتا وکړه او جمهوريت دوله رژيم ئـې اعلان کړ چې په خپله دی ولسمشر وو. له سلطنت څخه له ګوښه کېدلو راوروسته په ايټاليا کې ژوند کوي. له ۱۹۸۳ز کال راهيسې ئـې اعلاميې

---

[1] -Lycee Janson de Sailly, Lycee Pasteur, etc
[2] -Al-Mutawakkal Ala'llah
[3] -Pairaw-e-Din-e- Mubine-e- Islam
[4] -Banda-e-khoda


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

خپرې کړي دي او په هغو کې ئـې له افغانستان څخه د شوروي اتحاد د ځواکونو د وتلو او د ولس په اراده او خوښه د حکومت جوړولو غوښتنه کړې ده. د محـمـد ظاهر بچیان : شهزادگی بلقیس، ۱۹۳۲؛ محـمـد اکبر ۱۹۳۳ ــ ۱۹۴۱؛ احمد شاه ۱۹۳۴؛ مریم ۱۹۳۶؛ محـمـد نادر ۱۹۴۱؛ شاه محمود ۱۹۴۶؛ محـمـد داؤود پښتونیار ۱۹۴۹؛ او میرویس ۱۹۵۷. له خپلي کورنۍ سره په ایتالیا کې اوسېږي.

## علي محمد زهما

د جان محـمـد زوی په په ۱۹۲۸ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ؛ جان محمد : د روزگان وو چې امیر عبدالرحمن خان کندهار ته تبعید کړی وو. تر لسم ټولګي پورې ئـې د احمد شاه بابا په لیسي کې درس ولوست او له هغه وروسته کابل ته راتبدیل او پاتې زده کړې ئـې د حبیبیې په لیسي کې پای ته ورسولې. په ۱۹۵۰ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه فارغ سو. وروسي برتانیې ته لاړ او په لندن کې SOAS ته لاړ او د افغانستان په هکله ئـې د ماسترۍ یو تیزس ولیکـۀ. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۴ز کال کې د معارف د وزارت د تدریسي کتابونو د لیکلو دډلي غړی. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۷۱ز کال پورې انګلستان ته د برتانیې او هندوستان په دفترونو کې د څېړنو لپاره لاړ. د کابل پوهنتون پوهندوی. په ۱۹۷۱ز کال کې د موسی شفیق د حکومت له لوري چین ته واستول سو او هلته ئـې د پیکینګ په پوهنتون کې د دري ژبې او د دري ادبیاتو تدریس وکړ. په ۱۹۷۴ز کال کې افغانستان ته راستون سو. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۸ز کال پورې بې کاره وو. له ۱۹۷۹ تر ۱۹۸۰ز کال پورې زنداني وو. د زندان له کبله په روغتون کې بستر سو. په ۱۹۸۰ز کال کې د افغانستان د علومو د اکاډیمی سلاکار. د افغان لیکوالانو د اتحادیې د رئیسه هیـئـت د غړي په توګه وګومارل سو. په ۱۹۸۴ز کال کې د افغانستان د تأریخ لیکونکو د کمېټې رئیس. هندوستان ته د درملني لپاره لاړ او د ۱۹۸۵ز کال د جون په میاشت کې هنګري ته لاړ او له هماغه ځایه د خپلي کورنی له غړو سره د آستریا ویانا ته لاړ. د یو شمېر کتابونو مؤلف او همدا رنګه د آدمک، بارتولد، فریزر تایلر، روزانتل او نورو د شاو خوا د ۳۰ کتابونو نامتو ژباړونکی.

## میر عزیز الحق ضعیفي

ړد غوایي له پاڅون وروسته د عدلیې د وزارت د سترې محکمې د تمیز د عامه حقوقو د دیوان رئیس.

## زین العابدین

ړد غوایي له پاڅون وروسته د عدلیې د وزارت د سترې محکمې د تمیز د پولیسو د دیوان رئیس.

## ډاکټر عبدالولي ذکي

د عبدالهادي زوی په ۱۹۲۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. محـمد زی دئ. د استقلال له لیسي او د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي فارغ سوی دئ. د طب په پوهنځي کې د پتالوژي مدرس. په فرانسې او سویتزرلند کې ئـې تخصصي روزنې ولیدلې. د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي پوهندوی او وروسته ددې پوهنځي رئیس. ولسي جرګې ته ئـې ځان کاندید کړ خو رقیبي حبیب «ابوبکر» ته ئـې بایلوده. مېـرمن ئـې چې هم د طب ډاکټره وه په فرانسې کې د موټر د ټکر له کبله وژل سوې وه. په ۱۹۷۵ز کال کې د پاریس د لوزان د پوهنتون پوهنیار. په ۱۹۸۰ز کال کې ددې پوهنتون پوهندوی. اوس د فرانسې په لوزان کې له خپلي لور سره ژوند کوي؛ لور ئـې د ډاکټر آدم درمل له زوی سره وادۀ کړی دئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## فيض الله ذکي

ډ غوايي له پاڅون وروسته د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کمېټې د D.Y.O.A. منشي.

## فضل الحق خلمی

په ۱۹۷۹ز کال کې د عامې روغتيا د وزارت د روغتيايي چارو رئيس.

## خلمی خان

افتخاري نائب سالار، جنرال. موسی خيل منګل دئ. له ۱۹۲۴ تر ۱۹۲۵ز کال پورې د خوست د اله ګولې پر مهال د ياغيانو مشر. کورم ته ئې پناه يووړه او له همراهانو ځايه په ۱۹۲۵ز کال کې ابټ آباد ته اخراج سو. افغانستان ته راستون او کابل ته راوستل سو او په کابل کې د مېلمه په شان چلند ورسره وسو. دا د ۱۹۲۶ز کال د اکتوبر مياشت وه. اعليحضرت امان الله خان ورته عفو وکړه او د ۱۹۲۶ز کال د نوامبر په مياشت کې ورته اجازه ورکړل سوه چې بېرته دې خوست ته ستون سي. په ۱۹۲۹ز کال کې ئې له نادر شاه سره مرسته وکړه او د ۱۹۳۰ز کال د مې په مياشت کې د نائب سالار پر مقام مقرر سو. د ۱۹۳۲ز کال د جون په مياشت کې غزني ته لاړ چې له غلزيو سره د تاديې وړ د ګمرکاتو په هکله خبرې وکړي او په بريالی توګه يوې حل لارې ته ورسېد. د ۱۹۳۲ زکال د نوامبر په مياشت کې له سپه سالار شاه محمود سره د هغه د ګرديز د لښکرلېږد /لشکرکشی مل وو ترڅو د «دير خيلو» بغاوت وځپي. خلمی خان د منګلو په سيمې کې يو مهم شخصيت دئ. معمولاً ئې په کابل کې ژوند کاوه. په ۱۹۶۰ز کال کې په کابل کې وفات سو. زوی ئې خوازک خان تر ۱۹۷۱ز کال پورې د قوای کار بولندوی وو او همدا وخت د ډاکټر ظاهر په کابينې کې د فوايد عامې وزير سو.

## خوازک خان خلمی

د جنرال خلمي خان، منګل، زوی په ۱۹۲۰ز کال کې زېږېدلی دی. خپلې زده کړې ئې په حربي ښوونځي کې کړې او په ۱۹۴۳ز کال کې د حربي علومو له پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۴۷ز کال پورې ئې په هندوستان کې نورې پرمختلې پوځي روزنې وليدلې. په ۱۹۴۷ز کال کې د دفاع د وزارت د ستر درستيز او د انجنيری د فرقې د تعليم او تربيې مدير. له ۱۹۴۸ تر ۱۹۴۹ز کال کې ددفاع د وزارت د اداري کميسيون غړی. په ۱۹۴۹ز کال کې د دفاع د وزارت د قوای مرکز د انجنيری د ليوال بولندوی افسر. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د افغان وسله وال ځواک د روزنې د رياست مشر. په ۱۹۶۳ز کال کې د هوايي ډګر د قوای کار د لومړي واحد او د هغو عصري کورونو د جوړولو سرپرست بولندوی او وروسته بولندوی چې د کورونو برخې ئې مخکې له مخکې جوړې سوې وي/ پيش ساخت کورونه[5]. په ۱۹۶۶ز کال کې د قوای کار د غنډ بولندوی. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال کې د ټولګټو/ فوايد عامې وزير. څو مډالونه ئې اخيستي دي. مورنی ژبه ئې پښتو ده.

[5] -Prefabricated Houses



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

### محمد ولي ځلمی

د حاجي سید محمد زوی په کندهار کي زېږېدلی دئ. د کندهار د احمد شاه بابا له لیسي او د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د کابل مجلې، طلوع ِ افغان، د کندهار مجلې، او هلمند محرر. د باختر د خبري آژانس مرستیال رئیس. د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د پښتو د ژبې د پرمختګ عمومي مدیر. په ۱۹۷۳ز کال کي په واشنګټن ډي. سي. کي کلتوري اتشه. پښتو لیکوال او ادبي کره کتونکی.

### نظام الدین ځلمی

د جنرال ځلمي خان زوی، په ۱۹۴۲ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۰ز کال کي د حبیبیي له لیسي او په ۱۹۶۵ز کال کي د کابل پوهنتون د سیاسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۸ز کال پوري د کورنیو چارو په وزارت کي. د روغتیا او ټولنیزو اړیکو د سکرتریټ د ډایرکټر جنرال اسیستانت. په ۱۹۷۰ز کال کي ئـي په هندوستان کي، په ۱۹۷۳ز کال کي ئـي په چکوسلواکیا کي،او په ۱۹۷۴ز کال کي په جرمني او شوروي اتحاد کي په نړی والو غونډو کي د افغاني سرې میاشتي د ټولني استازیتوب وکړ. تر ۱۹۸۰ز کال پوري په پلچرخي کي سیاسي زنداني. (د حاجي محمد سرور نورستاني له لور) ثریاجاني نورستاني سره ئـي وادهٔ کړی دئ او د وانه او سنکه په نومونو دوه لوڼي لري. مورنی ژبه ئـي پښتو ده. اوس له خپلي کورنۍ سره د امریکا په متحده ایالاتو کي ژوند کوي.[6]

## نور بیا

### محمد هاشم زماني

(د امیر امان الله خان د مهال د جنرال او د کونړ د خان) میر زمان خان زوی په...

[قدرمنو لوستونکو! د بناعلی رحمت آریا د آرشیف: لینک]

[6] -Wana and Saneka


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ